**اصل مضمون تایید: ۱۷۱/ ۹۸– ۱۳۹۸/۷/۲۱** **د مولود شریف غونډې نیول د قرآن او حدیث په رڼا کې**

**اصلاح نهایی گردید: فولدرمضامین چاپ شده برج عقرب ۱۳۹۸** **مولوی نصیرالدین کوکب**

حمد الله علی نواله والصلواه والسلام علی رسوله و اتباعه: اما بعد قال الله تعالی و ما ارسلناک الارحمه للعالمین.

د ربیع الاول په میاشت کې په دولسمه نیټه د نبیﷺ د زیږیدنې په ویاړ ځینو ځایونو کې غونډې جوړیږي. چې علماء کرام په نثر کې او شاعران په نظم او شعرونو کې د محمدﷺ د سیرت او صورت ستاینه او تذکرې کوي او خیرات یې تیارکړي وي هغه هم تقسیم شي. او وخوړل شي. او په دعائیه سره دغه غونډه پای ته ورسیږي. دغو غونډو ته مولود شریف ویل کیږي. او ځیني ورته د سیرة النبي جلسه، او ځیني ورته میلاد النبي شریف و ایي.

علامه جلال الدین سیوطيؒ په دې اړه پخپل کتاب، الحاوي للفتاوی کې په نوم د حسن المقصد في عمل المولد یوه مستقله رساله لیکلې ده. په دغه رساله کې دی غونډوته ښې ویلي، او د اجر او ثواب لامل یې ګڼلي دي.

نوموړي لیکلي دي چې د دې غونډو پیل او ابتداء په شپږم قرن کې یو پاچاه په نوم د مضفر ابو سعید کوکبري بن زین الدین سبکتګین کړې ده. نوموړي پا چاه به د ربیع الاول په میاشت کې په نوموړې نیټه یوه لویه غونډه جوړوله. او دغې غونډی ته به یې په زرګونو خلک، او په سوونو علماء او مشایخ را غوښتل. او دغه غونډه به د ماسپښین څخه پیل، او تر سبا پورې به یې دوام کولو. علامه ابن جوزي پخپل کتاب مراه الزمان کې لیکلي دې چې نوموړي پاچاه به په دغه غونډه لکونه دینارلګول او زرپسونه اولس زره چرګان به یې حلاول او داسي نور. نوموړي لیکي چې علامه ابو الخطاب بن د حیه یو کتاب په نوم د (التنویر فی مولد البشیر النذیر) د سیرت په اړه ولیکه او نوموړي پا چاه ته یې ډالی کړپاچاه هغه ته ددې ښکلې ډالی په بدل کې زردیناره په هدیه کې ورکړل.

علامه ابن خلکان د دغې عالم ابو الخطاب بن دحیه د صفتونو په اړه لیکلي دي: کان من اعیان العلماء و مشاهیر الفضلاء.

**ژباړه**: ابن دحیه په علماؤکې یو وتلې شخصیت، او په فضلاؤکې نوموړې شخص وو:

علامه ابن جوزي زیاتوي: چې نوموړي پا چاه دومره متواضع شخصیت وو چې د دومره امکاناتو سره بیا هم ده د خامتا جامې اغوستې چې بیه به یې د(۵) روپو څخه زیاته نه وه او همیشه به ورسره د خپلې ښځې په همدې اړه شخړه وه.

اوله اللهﷻ څخه ویریدونکې شخصیت وو او کال په کال به یې په حرمینو شریفینو لکونه دیناره لګول.

علامه ابن کثیرؒ د نوموړي پاچا د صفتونو په اړه لیکلي دي. (کان شهما. شجاعا. بطلا.عاقلا. عالما عادلا:

**ژباړه**: دغه پاچا یو متواضع. زړه ور. پالوان. هوښیار، عالم او عادل شخصیت وو:

او دغه پاچا د دغو غونډو استدلال په دې حدیث سره کولو. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ– صلی الله علیه وسلم– « مَنْ سَنَّ فِى الإِسْلاَمِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلاَ يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَىْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِى الإِسْلاَمِ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلاَ يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَىْءٌ رواه مسلم ج۲ ص۶۱ شماره حدیث۶۹۷۵)

**ژباړه**: رسول الله فرمایې: چا چې یوه نوې نیک کارته رواج ورکړاو دده وروسته په دغه کارعمل وکړای شو د ده لپاره په دغه ثواب کې برخه شته او د عمل کوونکې د اجر څخه هم څه نه کمیږي. او چاچې یو بد کارته رواج ورکړاوله دې وروسته په دې کارعمل وشو ده ته په دې عذاب کې برخه شته اودعمل کوونکې د عذاب څخه هم څه نه کمیږي. او داغونډې ځکه حسنې دي چې په دې کې د نبيﷺ د صورت او سیرت یادونه، په نظم اونثرکې کیږي او نبيﷺ پخپله د خپل سیرت او صورت بیان د عبدالله بن رواحه، حسان بن ثابت، کعب ابن ظهیر او داسی نورو څخه اوریدلی، دعاګانی یې ورته کړې او په ډالی کې خپل څادر مبارک هم ورکړې.

او هرچه خیرات دي نو دا هم د نبيﷺ دنیا ته د راتګ په خوشالی او شکرانګی کې کیږي. او دا عمل هم حسن او جائزدي. ځیني ورونه چې دغه غونډوته بدعت و ایي او ښه یې نه ګڼي هغوي په دلیل کې لاندې اقوال ذکرکوي.

۱: و ایي ددې غونډو لپاره په قرآن او حدیثو کې کوم اصل او دلیل نشته.

۲: د تیرو شوو علماو څخه دغه عمل ندې ثابت شوی.

۳: په دغه غونډوکې ځیني غیرشرعیه کارونه ترسره کیږي لکه د ګروپونو او څراغانو ډیرزیات لګښت او روښانه کول چې دغه اسراف او حرام کاردي.

۴: دغه غونډوته ښځې او سړي ګډ راجمع کیږي او د پردې او حجاب لحاظ نه ساتي.

۵: په دې غونډوکې د قواليانو غږيدل، رقصونه اوګډاګانې کول او داسې نورکارونه ترسره کيږي.

۶: شپه ټوله تيره کړي اوبيا د سبايې لمونځ قضا کړي.

۷: اوبله داچې ددی غونډې پيل په شپږم قرن کې شوې اونومورې پاچاه کړې دغه دليل د بدعت دي.

۸: اوبله داچې په دغه ورځ خورسول الله وفات شوې هم دې نو دا خوشالي پدې ورځ د يهودو سره مشابهت دې ځکه هغوې د پيغمبرﷺ په مړينې خوشالي ښکاره کړې ده.

نو مونږ د دوې هريو دليل ته په لاندې توګه مفصلاً ځو ابونه و ايو.

۱: په قرآن کريم کې د دې لپاره اصل اودليل شته ځکه دغه غونډه تحديث د نعمت دې اوالله ﷻ فرمايې: ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ الضحی: ۱۱

**ژباړه**: او هر څه د الله ﷻ نعمت دې نو تاسی د هغوې تحديث او بيان وکړئ. اود رسول الله وجود مبارک د ټولو نعمتونو څخه غوره او اولی نعمت دې.

ځکه دده په برکت ټوله بت پرستي، شرکيات، ظلمونه، د لونړوندې ښښول، او داسې نورې د کفر تيارې له منځه لاړې او په دنياکې د توحيد رڼا ګانې بلې شوې د عدل فضا رامنځ ته شوه. حق حقدارته وسپارل شو دين مبين اسلام او د قرآن د نزول لامل شو نو ايا دا نعمت ندې؟.

بل اصل دا آيات مبارکه دې ﴿ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴾ يونس: ۵۸

**ژباړه**: ورته وو ايه ای محمده د الله په فضل اورحمه په همدغو خوشاله شي اودغه خوشالي تاسې ته غوره ده د هرهغه څه څخه چې تاسی يې جمع کوې. د فضل څخه دين داسلام مراد دې او د رحمه څخه ددی آيات پربنسټ چې ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴾ الأنبياء: ۱۰۷ وجود مبارک د محمدﷺ مراد دې.

۲: اوپه احاديثوکې هم ددې اصل شته

۱: رسول الله به د هرې دوشنبې په ورځ روژه نيوله، چا ورڅخه د علت اووجې پوښتنه وکړه نورسول الله وويل( ذاک يوم ولدت فيه و انزل علی فيه النبوه )سنن للبهيقي ج۴ ص ۷۷) مسند المستخرج ج۳ ص۳۰۰ جامع الاحاديث ج۱۳ ص۲۹)

**ژباړه**: دغه زما د زيږيدو ،اوپه ما دنبوت د نازليدو ورځ ده. معلومه شوه چې د پيغمبرﷺ څخه د خپل پيدايښت اونبوت په خوشالی کې عمل اوبندګي نقل ده.

۲: کله چې رسول الله مدينې منورې ته هجرت وکړ نو وليدل چې يهودو به د عاشورا په ورځ روژه نيوله نورسول الله د هغوې څخه د لامل پوښتنه وکړه نو هغوې په ځواب کې وويل. په دغه ورځ موسی عليه السلام ته د فرعون څخه الله ﷻ نجات ورکړ او فرعون يې په درياب کې هلاک کړ نو مونږ په دغه خوشالی کې دغه ورځ روژه نيسو نو رسول الله دوې له دې روژې څخه منع نه کړل او خپلو صحاباوو ته يې وفرمايل: (نحن احق بموسی منهم) مونږ ددوي څخه زيات د موسی عليه السلام د نجات په خوشالی وړ او لايق يو او صحاباوو ته يې هم د دغې ورځې په روژې نيولو حکم وکړ البته د يهودو سره د مخالفت په بنسټ يې په دوه ورځو روژو نيولو حکم وکړ.

۳: همدا راز معجم الوسيط نقل کړي( حدثنا احمد قال حدثنا الهيثم قال حدثنا عبدالله عن ثمامه عن انس ان النبی عق عن نفسه بعد ما بعث نبيا( المعجم الوسيط ج۱ ص۲۹۸ ش۹۹۴)

**ژباړه**: انس رضي الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله وروسته د بعثت څخه هم د خپل ځان څخه عقيقه کړې ده.

سره ددې چې ټول مورخينو نقل کړې چې په رسول الله په اوومه ورځ خپل نيکه عبد المطلب عقيقه کړې وه: او په عقيقه کې خو تکرار نوي. نو معلومه شوه چې د پيغمبرﷺ د خپل نبوت په خوشالی کې خيرات نقل دې.

۴: او علامه شمس الدين بن ناصر الدين الدمشقي پخپل کتاب (المورد الصادي في مولد الهادي) کې ليکلي دي. چې ابولهب د پيغمبرﷺ د زيږيدنې د زيرې په خوشالی کې خپله وينځه حضرت ثوبيه ازاده کړه نو د مرګ څخه وروسته چا په خوب کې وليده او د حال پوښتنه يې ورڅخه وکړه نو هغه ورته په ځواب کې وويل. چې د هرې دوشنبې په ورځ په دې خاطر چې ما خپله وينځه د محمدﷺ د زيږيدنې په خوشالی کې آزاده کړې په ما عذاب کم وي او د دغې دوه ګوتو څخه راته لړې اوبه راکول کيږي او دا ځکه چې وينځې ته مې د آزاديدو په موخه په دغه دوه ګوتو اشاره کړې وه. او بيا يې دغه شعرونه هم ليکلي دي.

اذا کان هذا کافر جاء ذمته ............. وتبت فی الجحيم مخلدا

اتی انه فی یوم الاثنین دائما.............یخفف عنه للسرور با احمدا

فما ظنک بالعبد الذي طول عمره........ باحمد مسرورو مات موحدا

**ژباړه**: هرکله چې یو داسې کافرچې په عذاب کې همیشه دې. د پیغمبرﷺ د خوشالی په خاطرورباندې د دوشنبې په ورځ عذاب کموي. نو دهغه چا په اړه مو څه ګومان دې چې عمرېې د پیغمبرﷺ د زیږیدنې په خوشالی کې تیر،او موحد مړشي.

[۳]: همدا رازتاریخ دارالعلوم لیکلي چې د شاه ولي الله محدث دهلوي والد بزرګوارشاه عبد الرحیم رحمه الله به هرکال د ربیع الاول په میاشت کې د پیغمبرﷺ د پیدا یښت د ورځې په مناسبت خیرات کولو. دی مبارک و اېې یو کال زه ډیرېې وسه شوم او څه مې نه درلودل او دا مې هم زړه نه منل چې سږ کال دې زه د خیرات کولوڅخه پاتې شم، نو بازارته لاړم او تورې چڼې(نخود) مې واخستل اووه مې ویشل: خو ځان راته په دې کمه صدقه ډیربد بریښیده او په خپلې بې وزلۍ ژړا راغله

د شپې مې په خوب کې محمدﷺ او ابوبکرصدیق رضی الله عنه ولیدل چې زما کورته راشي او هغه زما د صدقې نخود ورسره لاسونو کې وي او ماته خاندې او قبلیدو زیرې راکوي.

[۴]: او دا چې په دغه ورځ نبي ﷺ وفات شوې او دا د یهودو سره مشابهت دې نو مونږ و ایو چې د نبی ﷺ ژوند اوزیږیدنه نعمت دې، نه مړینه او په مړینې راته الله ﷻ د صبر، زغم او حوصلې حکم کړې نه د خوشالی. اوتعلق د هرعمل ترنیت پورې وې نو زمونږ په نیت کې د هغې په مړینې خوشالي نه، بلکه په پیدایښت خوشالي مقصود ده.

[۵]: دا چې په ځینو مولودونو کې غیر شرعیه کارونه ترسره کیږي لکه پورته چې ورته اشاره شوې ده نو دهغې کارونو مونږ هم مخالف یو او روا یې نه بولو. البته ټول مولود ته خو بد نشو ویلای. او نه ددغوکارونو لامله غونډ مولود پریښودلای شو. لکه د ویرجنو ښځود ویر لامله جنازه څوک نه پریږدي او په پښتو ژبه کې یو متل دې . چې د یوې یا دوه سپږولپاره څوک غونډ پوستین اورته نه اچوي

اوکومو علماؤلکه علامه رشید احمد ګنګوهي او داسې نورو چې مولود شریف منعه اورد کړې هغوي هم د همدغه ځینو بدو کارونو لامله رد کړې،

. او دغه کارونه الحمد لله زمونږ په ملک او ټاټوبي کی نشته، اوس په نورو ځایونو کې لکه پنجاب وکې مروج دې،

[۶]: دا چې په شپږم قرن کې ددې پیل راغلې نو مونږ و ایو چې دغه غونډه دغه پاچا یوازې نه ده ترسره کړې. بلکی دیته یې په سوونو علماء راغوښتي او اجماع یې جوړه کړې او هیچا هم نده رد کړې او د دومره علماو چپ پاتې کیدل په یوکاردا دلیل د اباحت دې او دا پخپله اجماع دامت شوه اوکوم شې چې په اجماع سره ثابت شي هغه قطعي الثبوت وي. ( اصول الشاشي باب الاجماع).

اوکه د دغې ټولو دلایلو نه تیرشو نو زه و ایم چې مولود ښه یا بد نه، بلکه ددې وخت ضرورت دې څکه امت د دین خبرې ته راجمع کول، په نازک اود فتنو څخه ډک وخت کې، ډیر اړین دې او دغه یې یوه غوره لاره ده.

او فلسفه په دغو غونډوکې د رسول الله سره د مینې او محبت پیدا کیدل او پیاوړې کیدل دي. او د رسول الله سره محبت د ایمان یوه برخه ده.

**ماخذونه**:

۱ – قران الکریم ۲ – معجم الوسیط ۳ – صحیح مسلم ۴ – مسند المستخرج ۵ – سنن للبهیقی ۶ – جامع الاحادیث ۷ – الحاوي للفتاوی ۸ – موردالصاري ۹ – عرف التعریف ۱۰ – البدایه والنهایه